**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۱۹** (از ۲۸ اسد الی ۴ سنبله ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د امریکا نوې افغان تګلاره؛ په نوي بوتل کې زاړه شراب ........ ۳**

د واشنګټن پخوانۍ افغان تګلاره........ ۴

د افغانستان او سوېلي آسیا لپاره د ټرمپ تګلاره ........ ۵

د ټرمپ په دریځ کې د بدلون لاملونه ........ ۵

د امریکا نوې تګلاره او پر سوله او امنیت یې اغېزې........ ٦

**معادن افغانستان؛ گنج‌هایی که تاراج می‌شوند ........ ۸**

معادن افغانستان ........ ۹

استخراج غیرقانونی معادن افغانستان ........ ۱۰

فساد در سکتور معادن ........ ۱۱

راه‌های جلوگیری از فساد در سکتور معادن ........ ۱۲

**د چین د تحقیقاتي مرکزونو یوه پلاوي له CSRS څخه لیدنه وکړه ........ ۱۳**

## مقدمه

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو وروسته، د امریکا متحده ایالاتو له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام څو ځله بدل کړ؛ خو کله چې په امریکا کې ډونالډ ټرمپ واک ته ورسېد، د افغانستان د جګړې په اړه د نوموړي پخوانیو ضد او نقیض دریځونو او اوسنۍ دوه‌زړې افغان حکومت اندېښمن کړ. دا اندېښنه بې‌ځایه هم نه وه او ټرمپ په افغانستان کې د خپلو سرتېرو په پرېښودلو او ایستلو کې دوه‌زړی و. همدا لامل و، چې د امریکا نوې تګلاره اته میاشتې وځنډېده.

تېره اوونۍ بالاخره د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د ډونالډ ټرمپ د حکومت تګلاره اعلان شوه، چې له مخې یې امریکا په افغانستان کې د اوږده مهال پاتې کېدو لاره خپله کړې ده او پر جګړې یې ټینګار دی. همدا لامل دی، چې د افغان حکومت د تاوده هرکلي ترڅنګ یې د مخالفت غبرونه هم له ځان سره لرل. د دغې تګلارې په اړه ویلی شو، چې «نوې خو زړه تګلاره ده»؛ مګر بیا هم د افغانستان او سیمې په اړه د ټرمپ د ادارې له‌خوا یو څه بدلونونه پکې تر سترګو کېږي. پوښتنه دا ده، چې ټرمپ د امریکا په پخوانۍ تګلاره کې کوم مهم بدلونونه راوړي؟ او دا تګلاره به د سیمې، په ځانګړي ډول افغانستان وضعیت کوم لوري ته بوځي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې څېړل شوې دي.

د تحلیل په دویمه برخه کې په هېواد کې د کانونو وضعیت، ناقانونه کیندنو او په دغه سکتور کې شته اداري فساد په اړه لولئ. یو شمېر راپورونه ښیي، چې په دغه سکتور کې د پراخ اداري فساد له کبله د افغانستان کانونه په ناقانونه توګه ایستل کېږي او لوټ کېږي او دا بهیر لا هم روان دی. دا چې په کانونو سکتور کې فساد په کومه کچه دی او د مخنیوي لارې چارې یې څه دي؟ هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دې برخه کې ځواب شوې دي.

# د امریکا نوې افغان تګلاره؛ په نوي بوتل کې زاړه شراب



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د افغانستان او سوېلي آسیا په اړه د امریکا نوې تګلاره د اګست په ۲۲مه (۲۰۱۷) اعلان کړه. د امریکا دا تګلاره له ۸ میاشتې اوږده انتظار وروسته داسې مهال اعلان شوه، چې د امریکا د څنډېدونکې تګلارې په تړاو، ډېر بحثونه راپورته او پروپوزلونه وړاندې شول. د بېلګې په توګه له افغانستانه د بشپړ وتلو، افغان جګړه خصوصي کمپنیو ته سپارلو او د پوځیانو د زیاتولو طرحې وړاندې شوې.

د افغانستان لپاره د ټرمپ د تګلارې اعلان، په هېواد کې دننه او بهیر موافق او مخالف غبرګونونه هم له ځان سره لرل. د افغانستان ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله یې تود هرکلی وکړ؛ خو پخواني ولسمشر حامد کرزي دا تګلاره وغندله او ویې ویل، چې په دې تګلاره کې د سولې پر ځای د وژنو او جګړې پر دوام او پراخېدو ټینګار شوی. د دې ترڅنګ طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره د ټرمپ تګلاره د افغانستان د «اشغال» دوام بللی او ګوتڅنډنه یې کړې، چې ترڅو یو امریکایي پوځي هم په افغانستان کې وي، دوی به خپلې جګړې ته دوام ورکړي.

پاکستان او هند هم پر دغه تګلاره غبرګون ښودلی. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت خبرپاڼه کاږي، چې امریکا د پاکستان پر قربانیو سترګې پټوي او دوی یې نهیلي کړي دي. خو هند بیا د دغې تګلارې هرکلی کړی او ویلي یې دي، چې دوی هغه پرېکړه غوښته، چې ټرمپ کړې ده.

دا چې د سویلي آسیا او افغانستان لپاره د ډونالډ ټرمپ د تګلارې عمده ټکي څه دي، له پخوانۍ تګلارې سره یې څه توپیر دی، د واشنګټن دا افغان تګلاره د امریکا د دوو پخوانیو ولسمشرانو له تګلارو سره څه توپیر لري، او بالآخره آیا د امریکا دغه نوې تګلاره به افغانستان ته امنیت او سوله راوستلای شي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## د واشنګټن پخوانۍ افغان تګلاره

له ۲۰۰۱ کال وروسته د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې نېغ په نېغه ښکېل دي. همدا لامل دی، چې په تېرو ۱۷ کلونو کې افغانستان د امریکا د بهرني سیاست یوه مهمه برخه وه. د امریکا د همدغه سیاست له کبله وه چې جورج ډبلیو بُش په افغانستان کې جګړه او د دولت‌جوړونې پروسه پیل کړه. له ۲۰۰۴ کال وروسته بُش په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د زیاتولو پروسه پیل کړه؛ خو د دویمې دورې په پای کې یې افغانستان نور د ۲۰۰۴-۲۰۰۱ کلونو افغانستان نه و پاتې؛ بلکې جګړې او ناامنیو زور پکې اخېستی و. طالبان د یوه سیاسي او نظامي ځواک په توګه ومنل شول او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پر پرانېستلو خبرې اترې پیل شوې.

د امریکا بل ولسمشر بارک اوباما تر ډېره د افغانستان او عراق د جګړو پای ته رسولو د شعار په زور د ولسمشرۍ ټاکنې وګټلې. اوباما په ۲۰۰۹ کال کې خپله افغان تګلاره اعلان کړه، چې له مخې یې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د زیاتولو ترڅنګ د دوی د بېرته وتلو مهالویش هم اعلان شو. دغه راز له افغان لوري سره پر اوږدمهاله ستراتېژیک او امنیتي تړونونو هم خبرې اترې پیل شوې. که څه هم اوباما ونه شو کړای چې له حامد کرزي سره امنیتي تړون لاسلیک کړي؛ خو د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره، په ۲۴ ساعتونو کې دننه امریکا له افغان لوري سره امنیتي تړون لاسلیک کړ.

د امریکا د دغو دوو ولسمشرانو افغان تګلارو په افغانستان کې د سرتېرو پر زیاتولو ټینګار کاوه؛ خو په ورته وخت کې د اوباما په تګلاره کې بیا د امریکایي سرتېرو بېرته ایستلو او تر ۲۰۲۴ کال پورې په افغانستان کې د امریکا ستراتېژیک راتلونکي ته هم ځای ورکړل شو.

## د افغانستان او سوېلي آسيا لپاره د ټرمپ تګلاره

که څه هم ډونالډ ټرمپ له ولسمشر کېدو وړاندې په افغانستان کې د امريکا پر تګلاره ډېرې نيوکې کولې؛ خو سپينې ماڼۍ ته له ننوتلو وروسته يې تر اتو مياشتو پورې د افغانستان په تړاو ډېرې کمې څرګندونې وکړې. په رسنيو کې هم د افغانستان په تړاو د ټرمپ څرګندونې ضد او نقيض منعکس شوې.

له اتو مياشتو اوږده ځنډ او انتظار وروسته د ټرمپ افغان او سوېلي اسيا تګلاره اعلان شوه. که څه هم ټرمپ، د افغانستان او سوېلي آسيا لپاره د امريکا په تګلارو کې انقلابي بدلون رامنځته نهشو کړای؛ مګر بيا هم که دغه نوې تګلاره له يوې خوا د امريکا د پخوانيو تګلارو دوام دی، نو له بلې خوا له تېرو تګلارو سره يو څه توپير هم لري.

د ټرمپ د وينا له متن څخه په څرګنده معلومېږي، چې د دغې سيمې لپاره د امريکا تګلاره به پر لاندې ټکو راڅرخېږي:

**لومړی**؛ امريکا نور له افغانستانه د خپلو سرتېرو ايستلو د مهالوېش پروګرام ته د پای ټکی کېښود او په افغانستان کې يې خپل حضور له شرطونو سره وتاړه؛

**دويم**؛ په افغانستان کې د امريکا د پوځي حضور راتلونکی تت او مبهم ښودل؛

**درېيم**؛ د امريکا په افغان جګړه کې د سرتېرو پر زياتولو ټينګار؛

**څلورم**؛ د پاکستان پر ضد تونده لهجه کارول؛

**پنځم**؛ له طالبانو سره جګړه، خو د خبرو اترو دروازه هم پرانېستې پرېښودل؛

**شپږم**؛ په افغانستان کې د هند د ونډې او رول زياتول.

## د ټرمپ په دريځ کې د بدلون لاملونه

د ټرمپ له پخوانيو دريځونو داسې شونتيا زياته وه، چې ټرمپ به له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ايستلو دريځ ولري او په دې اړه د نوموړي ځينو دريځونو او څرګندونو له افغان حکومت سره هم دا اندېښنه پيداوړې کړې وه؛ خو دا چې ولې ټرمپ په افغانستان کې د اوږده مهال پاتې کېدو دريځ خپل کړ، تر ډېره لاندې دوو لاملونو رول پکې درلود:

**د امریکایي جنرالانو او سلاکارانو ټینګار**؛ ټرمپ په خپله وینا کې وویل، چې اصلا د ده لومړنی دریځ دا و، چې له افغانستانه به خپل سرتېري وباسي؛ خو څرګنده ده چې کله سړی په سپینه ماڼۍ کې د مېز ترشا کېني، پرېکړې بدلېږي. ټرمپ ته په افغانستان کې پر پاتې کېدو قناعت ورکړل شو او د نوموړي دریځ یې بدل کړ.

**په سیمه کې د امریکا ګټو ته متوجه ګواښونه**؛ افغانستان د روسیې او منځنۍ آسیا، ایران، پاکستان او چین ترمنځ پروت دی او جغرافیایي موقعیت یې د ډېر ارزښت وړ دی. له تېرو څو کلونو راهیسې په دغه سیمه کې یو شمېر بدلونونه هم راروان دي، چې له یوې خوا پکې د روسیې او امریکا ترمنځ د سړې جګړې بحث بیا سر راپورته کړی او په عملي ډول د اوکراین، جورجیا او سوریې په قضیو کې له یو بل سره مخ دي او له بلې خوا چین هم په سیمه کې خپلې دوې مهمې پروژې د وربښمو نوې لاره او د چین-پاکستان اقتصادي حوزې پیل کړې دي. د دې ترڅنګ چین هغه هېواد دی، چې امریکا یې تر ټولو زیاته پوروړې ده او اوسمهال د چین د جنوبي سمندرګي په قضیه کې هم د چین پرضد بلاک کې ولاړه ده.

**د افغانستان طبیعي زېرمو ته د ټرمپ پام رااړول**؛ ځینو څېړنو په ډاګه کړې، چې افغانستان تر ځمکې لاندې کابو یو ټریلیون ډالرو په ارزښت طبیعي زېرمې، کانونه، ګاز، تېل او نوره شتمني لري. ویل کېږي چې څه موده وړاندې د کېمیاوي او فلزي توکو د تولید یوه ستر امریکایي شرکت له‌خوا په دې اړه ټرمپ ته د معلوماتو ورکولو ترڅنګ، ولسمشر غني هم له ټرمپ سره په یوه ټلېفوني اړیکه کې د افغانستان طبیعي زېرمو ته د نوموړي پام رااړولی و او داسې برېښي چې همدې چارې هم د نوموړي نظر بدل کړ او په دې فکر کې شو، چې دا شتمني څه ډول را ایستل کېدای شي او امریکا ترې څه ډول ګټه پورته کولی شي.

## د امریکا نوې تګلاره او پر سوله او امنیت یې اغېزې

په افغانستان کې د امریکا په تګلاره کې کوم انقلابي بدلون نه ترسترګو کېږي، بلکې تر ډېره هماغه زړه تګلاره ده؛ خو د امریکا د تګلارې د پورتنیو ټکو له امله ده چې په افغانستان کې به پر روانه جګړه او د سولې پر بهیر لاندې اغېزې وښندي:

**لومړی**؛ په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د زیاتولو له کبله به، ټرمپ د افغانستان هغه جګړه ونه شي ګټلی چې ده په خپله وروستۍ وینا کې شپږ ځله د «ګټلو» ټکی ورته وکاراوه. هغه جګړه چې سلګونه زره امریکایي سرتېرو ونه شو ګټلای، نو له دریو زرو نیولې تر پنځه زره پوځیانو پورې خو به یې هېڅ‌مهال هم ونه شي ګټلی.

**دویم**؛ که څه هم د امریکا دا تګلاره او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو زیاتېدل به د افغان حکومت روحیه لوړه او د حکومت په اند، د امنیتي ځواکونو مورال "لوړ" کړي؛ خو د افغانانو لپاره به د جګړې او سولې په ډګر کې ډېرې بدې اغېزې ولري.

**درېیم**؛ په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو مهالوېش نه ټاکل به نه یوازې دا چې د هېواد دننه جګړې ضد روحیه نوره هم پیاوړې کړي، بلکې په سیمه‌ییزه کچه به هم د یو شمېر هېوادونو لکه چین، روسیې، ایران، پاکستان او منځنۍ اسیا هېوادونو اندېښنې وپاروي او ښایي له طالبانو سره به د دغو هېوادونو دیپلوماتیکې او پوځي مرستې هم زیاتې شي.

# معادن افغانستان؛ گنج‌هایی که تاراج می‌شوند



مطالعاتی که تاکنون در افغانستان انجام یافته، نشان می‌دهد که حدود ۱۴۰۰ نشانه‌ی معدنی، مواد معدنی و ذخایر مواد معدنی به ارزش بیش از یک تریلیون دالر تثبیت شده است؛ ولی استخراج غیرقانونی معادن و فساد اداری در این سکتور از مشکلاتی به شمار می‌روند که باعث تاراج معادن کشور گردیده‌اند.

برخی گزارش‌ها نشان می‌دهد که در استخراج خودسرانهٔ معادن کشور، تعدادی از مقام‌های بلندرتبهٔ دولتی آغشته اند و حدود سه سال قبل فهرست افرادی را که در استخراج غیرقانونی معادن دست داشتند نیز تهیه گردید، اما این فهرست هرگز به دست نشر سپرده نشد.

هفتهٔ گذشته، ثریا پوپل سرپرست اکادمی علوم افغانستان، در سیمینار علمی-تحقیقی که تحت عنوان «چالش‌ها، راه‌حل‌ها و چگونگی جلب همکاری جامعهٔ جهانی در جلوگیری از استخراج غیرقانونی معادن» در کابل از سوی همین نهاد برگزار شده بود، اظهار داشت که در استخراج غیرقانونی معادن، نه تنها موضوع سوء

استفاده مالی مطرح است، بلکه استخراج غیرقانونی آن سبب می‌شود در کنار هدر رفتن سرمایهٔ ملی، پیامدهای امنیتی و سیاسی ناگوار نیز در قبال داشته باشد.

معادن و منابع طبیعی، از جمله سرمایه‌های بزرگ و دست‌نخوردهٔ افغانستان است که می‌تواند باعث توسعهٔ اقتصادی، رفاه، امنیت و ثبات در کشور گردد، اما روند استخراج غیرقانونی و غیرحرفه‌ای معادن در افغانستان، از چهار دهه به این‌سو ادامه داشته و ادامهٔ این وضعیت، بر اقتصاد، عواید کشور، امنیت و عرصه‌های دیگر نیز تاثیراتی منفی گذاشته است.

در این تحلیل بر معادن افغانستان، چگونگی استخراج معادن در افغانستان و فساد اداری در سکتورهای مربوطه پرداخته شده است.

## معادن افغانستان

افغانستان با داشتن معادن و منابع طبیعی زیادی در عمق کم و در فاصلهٔ نزدیک به شهرهای بزرگ، یک سرزمین بی‌مانند در منطقه به شمار می‌رود، اما بالعکس مردم آن از جمله فقیرترین ملت‌های جهان هستند.

در اواخر قرن هژدهم پس از انقلاب صنعتی در اروپا، برای اولین بار زمین‌شناسان انگلیسی در مناطق مرکزی و شمالی افغانستان در بارهٔ ذخایر طبیعی مشاهداتی انجام دادند. اسنادی که در سال ۱۸۹۰م توسط جیولوجستان بریتانیا تهیه گردیده، نشان می‌دهد که معدن بزرگ آهن حاجیگک ولایت بامیان یکی از غنی-ترین ذخایر معدنی در افغانستان در حال حاضر محسوب می‌گردد. علاوه بر انگلیس‌ها، روس‌ها، امریکایی‌ها، آلمانی‌ها و فرانسوی‌ها نیز در بارهٔ معادن افغانستان تحقیقاتی انجام دادند و ذخایر بزرگ نفت و گاز، ذخال سنگ، نقره، طلا، مس، لاجورد، سنگ‌های قیمتی و ذخایر سایر مواد قیمتی کشف شد که هنوز هم بیشتر آن-ها دست‌نخورده اند.

در کل، تا کنون ۱۴۰۰ محل در نقاط مختلف کشور شناسایی شده است که در آن معدن‌های مختلف وجود دارند. این معدن‌ها را آهن، مس، سنگ کرومایت، سرب، ذغال سنگ، یورانیوم، نمک، یاقوت، نقره، لیتیوم، زمرد، لاجورد، المونیم، نفت و گاز طبیعی، سنگ مرر و غیره تشکیل می‌دهد و ارزش مجموعی آن نظر به سروی جیولوجیکی امریکا، به یک هزار ملیارد دالر می‌رسد که حکومت افغانستان آن را سه هزار ملیارد دالر تخمین زده است.

تعدادی از معادن افغانستان از جمله بزرگترین معادن به سطح جهان به شمار می‌رود که از این جمله می‌توان از معدن مس عینک لوگر، معدن آهن حاجیگک بامیان و معدن لیتیوم نورستان نام برد. علاوه بر این، معادن کوبالت و نیوبیم که از جمله عناصر کیمیاوی بوده و در صنایع امروزی نیاز شدید به آن‌ها دیده می‌شود، در مناطق جنوب کشور کشف گردیده‌اند.

## استخراج غیرقانونی معادن افغانستان

از آغاز بی‌ثباتی و دوران جنگ‌های داخلی تا سال ۲۰۰۱م، معادن افغانستان در وضعیت بدی قرار داشتند. معادنِ سنگ‌های قیمتی و نیز ذغال سنگ افغانستان توسط زورمندان و افراد مسلح غیرمسؤول، به شکل غیرقانونی و غیرحرفه‌ای استخراج و به کشورهای دیگر قاچاق می‌شد.

هرچند پس از سال ۲۰۰۱م با ایجاد نظام جدید در کشور، گمان بر این بود که حکومت افغانستان به این سکتور توجه بیشتری خواهد کرد، اما با گذشت بیش از یک‌ونیم دهه و نیز مصرف صدها میلیون دالر، هنوز هم گزارش‌ها حاکی از آن است که معادن افغانستان به شکل غیرقانونی و غیرحرفه‌ای از سوی زورمندان و گروه-های مسلح استخراج و غارت می‌گردد.

دیدبان شفافیت افغانستان در اوایل سال جاری با ابراز نگرانی از تاراج معادن افغانستان گفته بود که عواید به دست آمده از استخراج غیرقانونی معادن، منبع بزرگ تمویل مخالفین مسلح دولت و از عوامل ادامهٔ جنگ و گسترش فساد در کشور می‌باشد و عدم مدیریت درست سکتور معادن، کشور را به چالش‌های فراوانی مواجه خواهد کرد.

این در حالی است که در ماه جوزای سال ۱۳۹۵ هـ ش نهاد بین‌المللی گلوبل ویتنس، در یافته‌های یک تحقیق خود گفته بود که درآمد گروه‌های مسلح، از معدن کوچکی در ولایت بدخشان، برابر با کل عواید افغانستان از بخش معادن است. این نهاد نگاشته بود که «رقابت مافیای اقتصادی بر سر کنترول معادن بدخشان، ائتلافی ناهمگون را به وجود آورده که در مواردی طالبان، فرماندهان محلی جمعیت اسلامی و برخی از مقامات ارشد دولتی را در یک صف قرار داده است.»

## فساد در سکتور معادن

موجودیت فساد اداری در سکتور معادن افغانستان یکی از جالش‌های جدی در این زمینه است. شبکۀ مبارزه با فساد اداری افغانستان در یافته‌های گزارش تحقیقاتی خود تحت نام «غارت معادن و رسوایی آشکار در وزارت معادن و پطرولیم» که به تاریخ ۱۱ مارچ ۲۰۱۷ به نشر رساند، گفته بود که مقامات وزارت معادن و پطرولیم، تلاش دارند که ۲۱۷ قرارداد استخراج معادن را به افراد زورمند، وابسته به وکلای شورای ملی، وزراء و سیاسیون بدهند و این مقامات از هر قرارداد، به شکل اوسط مبلغ یکصد هزار دالر امریکایی اخذ کرده‌اند که در مجموع حدود ۱۰ میلیون دالر می‌شود.

یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که از چندین سال بدین‌سو ۱۴ شرکت قراردادی، بیش از ۱۱ میلیون دالر از حکومت قرضدار اند که تاکنون هیچ‌گونه اقدامی برای اخذ این پول صورت نگرفته است. بربنیاد این گزارش، در حال حاضر روزانه ۵۰۰ موتر باربری مواد معدنی، از نقاط مرزی به خارج از کشور قاچاق می‌گردد و کارمندان وزارت ترانسپورت، مقامات محلی و نیروهای امینتی بخاطر عبور قاچاق این موترها رشوه اخذ می‌کنند.

از سوی هم دیدبان معادن افغانستان که یک شبکۀ متشکل از ۳۰ نهاد مدنی است، در پنجمین گزارش خود تحت نام «ابتکار شفافیت صنایع استخراجی افغانستان» نگاشته است که فساد در وزارت معادن به اوج خود رسیده است. براساس این گزارش، وزارت معادن و پطرولیم و وزارت مالیه در عرصۀ مدیریت و بررسی عواید معادن ناکام مانده‌اند و برخی وزیران فعلی و قبلی و شماری از اعضای شورای ملی در روند استخراج غیرقانونی معادن دست دارند.

پیش از این نیز ادارۀ دیدبان شفافیت افغانستان در دسامبر سال ۲۰۱۵ یک گزارش تحقیقی از پنج معدنِ که قراردادهای آنرا حکومت افغانستان از طریق وزارت معادن و پطرولیم با چندین شرکت عقد کرده بود، منتشر کرد. بربنیاد این گزارش، در پروسۀ عقد این قراردادها نفوذ سیاسی، خویش‌خوری و طرفداری نقش اساسی داشته است. این گزارش می‌نگارد که اعضای ولسی جرگه، مشرانو جرگه و مقام‌های بلندرتبۀ حکومت، شمار زیادی از معادن را برای منافع شخصی، خویشاوندان خود و یا هم زورمندان حفاظت می‌کنند و از آن‌ها استفادۀ غیرقانونی می‌کنند.

گزارش‌های سیگار در سال‌های ۲۰۱۵ و ۲۰۱٦ نیز نشان می‌دهد که حدود ۴۸۸ میلیون دالر که از جانب ایالات متحدۀ امریکا برای بلند بردن ظرفیت‌ها در سکتور معادن اختصاص یافته بود، ضایع گردیده است.

براساس گزارش سال ۲۰۱٦ ادارۀ سیگار، از سال ۲۰۱۰ به این‌سو ۱۱ پروژه در عرصه‌های انکشاف معادن و پطرول، توسعۀ دسترسی به انرژی و سروی جیولوجیکی افغانستان تطبیق گردیده که از این جمله سه پروژه به هزینۀ ۵۴,۳ میلیون دالر، به هیچ یک از نتایج‌اش دست نیافته است. پنج پروژۀ دیگر نیز به هزینۀ ۱۲۱,۷ ملیون دالر تطبیق گردیده که به گونۀ نسبی به اهداف خود رسیده بود و تنها باقی‌مانده سه پروژه به هزینۀ ۳۹,۴ ملیون دالر، به اهداف تعین‌شده رسیده بود.

گزارش‌های تحقیقیِ که تاهنوز در این مورد به نشر رسیده، مهم‌ترین عوامل فساد اداری در سکتور معادن را مافیا و زورمندان، نظارت ضعیف و مدیریت نادرست می‌داند. بربنیاد گزارش دسامبر ۲۰۱۵ ادارۀ شفافیت افغانستان، حدود ۵۰ عضو ولسی جرگه متهم به سوء استفاده از معادن کشور بودند.

## راه‌های جلوگیری از فساد در سکتور معادن

در این زمینه چند نکتۀ مهم ذیل قابل ذکر است:

- ایجاد یک میکانیزم مؤثر برای مبارزه با پدیدۀ فساد اداری در وزارت معادن و پطرولیم افغانستان؛
- جلوگیری از مداخلۀ وکلای شورای ملی، افراد با نفوذ دولتی، مافیا و زورمندان در عقد قراردادهای معادن و سایر منابع طبیعی؛
- پروسۀ عقد قراردادهای معادن بشکل رقابتی و نیز اعلان باخت و برد قراردادها بصورت علنی در حضور تمام قراردادیان صورت گیرد، تا قراردایان بفهمند که به چه دلیل قرارداد را بدست آورد و به چه دلیل قرار داد را از دست داد؛
- ایجاد یک حساب واحد و شفاف برای جمع‌آوری تمام عواید منابع طبیعی؛
- تقویۀ سیستم نظارت بر استخراج معادن و ایجاد یک میکانیزم عادلانه برای تامین منافع مردم محل.

# د چین د تحقیقاتي مرکزونو یوه پلاوي له CSRS څخه لیدنه وکړه




د چین د تحقیقاتي مرکزونو یوه پلاوي، چې په کابل کې د چین د سفارت په همغږۍ افغانستان ته راغلی، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له مشرتابه او غړو سره د دغه مرکز په دفتر کې وکتل.

په دغه ملاقات کې، چې تېره چارشنبه (د سنبلې/وږي میاشتې لومړۍ ۱۳۹٦) وشو، دواړو لورو د افغانستان او سیمې پر وضعیت، په ځانګړې ډول د چین او افغانستان پر اړیکو او د چین له تحقیقاتي مرکزونو سره د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، دوه‌اړخیزو همکاریو ته د زمینې پر برابرولو بحث وکړ.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین چینایي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: «چین د افغانستان دوست هېواد او یو مهم ګاونډی دی. له همدې کبله د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه-

اړخیزې اړیکې زموږ د څېړنې یو ډګر دی او په دې برخه کې مو تراوسه د افغان-چین پر اړیکو یو هراړخیز کتاب هم لیکلی، چې په نژدې راتلونکې کې به په شاوخوا ۴۰۰ مخونو کې چاپ شي.»

نوموړي زیاته کړه، موږ ته دا مهال په افغانستان کې سوله او د جګړې درېدل تر هرڅه مهم ګام دی او په دې برخه کې د چین رغنده رول ته هیله‌من یو. د ده په وینا، دا چې مدني ټولنې هم د حکومت ترڅنګ په دې برخه کې مثبت رول لوبولی شي، موږ په دې برخه کې زیات کار کړی او د څېړنې یو مهم ډګر مو دی. ښاغلي امین وویل، افغانان له جګړې ستړي دي او همدې اړتیا ته په کتلو سره موږ تمه لرو چې په چین کې یو تحقیقاتي مرکز، له ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز سره په ګډه یوې داسې غونډې ته زمینه برابره کړي، چې د افغان جګړې د ښکېلو لورو استازي پکې راټول شي او دا هڅه به مرسته وکړي چې څه ډول حکومتونه د سولې په لور رغند ګام اوچت کړي.

د چینایي پلاوي مشر او د چین په پلازمېنه بیجینګ کې چین د اجتماعي علومو اکاډمۍ اړوند د سوېلي اسیا د څېړنو مرکز مشر یې هیلین «Ye Hailin» مرکز ته د چینایي پلاوي له بلنې مننه وکړه او ویې ویل، چې د دوی تمرکز هم پر دې دی، چې د چین-افغانستان اړیکې څه ډول ښې شي. د ده په خبره، که څه هم دوی اقتصادي فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي، خو سوله او ټیکاو د هرڅه لپاره لومړنی شرط دی. له بلې خوا افغانستان د چین یو مهم ګاونډی دی او په افغانستان کې ثبات د چین لپاره خورا مهم دی. له همدې کبله چین لېوالتیا لري چې د افغان سولې په برخه کې مرستندوی رول ولوبوي او د دا ډول یوې غونډې په اړه به په چین کې له اړوندو چارواکو سره خبرې وکړي.

د وروستیو بدلونونو په برخه کې د افغانستان لپاره د امریکا د نوې ستراتېژۍ په اړه د چینایي پلاوي د پوښتنې په ځواب کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین وویل: «موږ د افغانستان لپاره د امریکا نوې ستراتېژي د افغانستان په ګټه نه ګڼو. په دې ستراتېژۍ کې د امریکایي پوځیانو د وتلو نېټه او دلته یې شمېر نه دی په ډاګه شوی. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو اوږدمهال حضور د افغانستان او سیمې د ثبات لپاره ګټور نه بلکې دلته د جګړې د دوام په معنا دی. امریکا د افغان جګړې دوام غواړي. د پوځیانو په زیاتولو دا جګړه پای ته نه رسېږي. له بلې خوا د امریکا په نوې ستراتېژۍ کې په ډاګه شوې چې دوی دلته له حکومتولۍ سره کار نه لري او یوازې په جګړه تمرکز کوي.»

د ملاقات په پای کې د دواړو تحقیقاتي مرکزونو ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو د یوه هوکړه‌لیک پر لاسلیک کولو هم هوکړه وشوه او چینایي پلاوي ژمنه وکړه، چې بیجینګ ته له ګرځېدو وروسته به په دې تړاو خپل وروستی نظر له ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز سره شریک کړي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.